# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

## AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد		بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم		از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com		afgazad@gmail.com

| مسایل ایدیولوژیک | Ideological |
|---|---|


لیکونکی: الحاج داکتر امین الدین سعیدی-سعیدافغانی
ژباړونکی: محترمه اغلی فاطمه "نیازی"

۲۶ جولای ۲۰۱۶

بسم الله الرحمن الرحيم

# د ښځې مصافحه نامحرم نارينه ته!




مصافحه یا د ښځې لاس ورکول نامحرم نارینه ته، د اسلامی شریعت له مخې په مطلق ډول روا نه ده. توپير نه کوي او نه دغه ناروا د ښځې او نارينه د عمر، چې کوچني وي که لوی اړه لري او نه عمر په روا و ناروا وو کې اغیزه لري. سبب يې داده، چې په دغه عمل کې د دواړو له اړخه وسوسه او فتنه پيښيږي او شيطاني فتنو سره مرسته کوي، څومره به ښه وي که اړتيا وي دغه ستړي مه سي په ګړني(شفاهي)ډول وشي.

خدای تعالی هم په دې اړه فرمايلي دي: « وإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَاعًا فَاسْأَلُوهُنَّ مِن وَرَاء حِجَابٍ ذَلِكُمْ أَطْهَرُ لِقُلُوبِكُمْ وَقُلُوبِهِنَّ» (د احزاب سوره ۵۳ آيه).(يعنې: کله، چې د ژوند ځيزونه د امانت په ډول هغوې (د نبی له ميرمنو) ښخه غواړي د پردې له شا ښخه يې وغواړي؛ دا کار ستاسو او د هغو د زړونو د پاکوالي لپاره ښه دی.)

مفسرين وايي ددې مبارکې آيه حکم يوازې د پيغمبر صلی الله عليه وسلم ميرمنو پورې اړه نه لري، بلکې حکم يې ټولو مؤمنو ميرمنو باندې هم صدق کوي، که داسې وشي، چې يو ځيزاو يا امانت اخيستل د پردې تر شا ترسره شي، نو هغه وخت د لاس ورکولو او لمسکولو حکم يې ټاکونکی او مشخص دی؟!

په یو حدیث کي له ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی، چي: پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:« « العَيْنَانِ زِنَاهُمَا النَّظَرُ، وَالأُذُنَانِ زِنَاهُمَا الاسْتِمَاعُ، وَاللِّسَانُ زِناهُ الكَلاَمُ، وَاليَدُ زِنَاهَا البَطْشُ، وَالرِّجْلُ زِنَاهَا الخُطَا».

بخاري(۶۲۴۳،۶۶۱۲) مسلم (۲۶۵۷). (یعنی: سترګي زنا کوي او زنایې نامحرم ته په کتو کي ده، د غوږونو زنا غوږ نیول نوساني او شهوتي خبرو ته ده، او د ژبې زنا په شهوت پارونکو خبرو کي ده، او د لاسونو زنا نامحرم ته لاس ورکولو کي ده، او د پښو زنا نامحرم ته په بد نیت تللوکي ده.)

همدا رنګه په صحیح حدیث کي له پیغمبر صلی الله علیه وسلم څخه روایت شوي دی، چي فرمایلي دي:

« إِنِّى لاَ أُصَافِحُ النِّسَاءَ» (زه له ښځو سره مصافحه نه کوم) أحمد (۶/۳۵۷). (زه په هیڅ صورت کي ښځو ته لاس نه ورکوم).

په یو بل حدیث کي له عایشي رضی الله عنها څخه روایت شوی:

« مَا مَسَّتْ يَدُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَ امْرَأَةٍ قَطُّ غَيْرَ أَنَّهُ يُبَايِعُهُنَّ بِالْكَلَامِ» بخاري (۵۲۸۸)، او مسلم (۱۸۶۶). یعنی: (رسول الله صلی الله علیه وسلم هیڅکله ښځي ته لاس نه دی ورکړي، او له ښځو نه یې په ژبني ډول بیعت اخیستی دی.)

طبراني په «المعجم الکبیر» کي له معقل ابن یسار رضی الله عنه څخه روایت کوي، چي پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

« لأَنْ يُطْعَنَ فِى رَأْسِ أَحَدِكُمْ بِمِخْيَطٍ مِنْ حَدِيدٍ خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَمَسَّ امْرَأَةً لا تَحِلُّ لَهُ »

صحیح ألباني فی«الصحیحة» (۱/۴۴۷). یعنی(که له تاسو څخه د یوه په سر کي د اوسپني میخ لاړ شي له دینه ښه ده ،چي ښځه لمس کړي، چي ورته حلاله نه وي).

او همدا رنګه طبراني له ابی امامه رضی الله عنه له پیغمبر صلی الله علیه وسلم روایت کوي، چي فرمایلي دي:

«لَان يَزْحَمُ رَجُلٌ خِنْزِيرًا مُتَلَطِّخًا بِطِينٍ، أَوْ حَمْأَةٍ خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَزْحَمَ مَنْكِبِهِ مَنْكِبَ امْرَأَةٍ لا تَحِلُّ لَهُ» «الترغیب و الترهیب»۳/۲۶ (۲۹۳۸).

یعنی: (که د چا بدن په خاورو او ختو لړل شوي خوک ولړیږي له دینه ښه ده، چي اوږه یې د هغي ښځي په اوږه ولړیږي، چي ورته حلاله نه وي).

او په یو بل حدیث کي له ترمذي، ابوداود، ابن ماجه او«الأدب المفرد» کتاب کي د امام بخاري راغلي، چي: یوه ورځ رسول اکرم - صلی الله علیه وسلم – یوه ډله ښځو لخوا تیریده د لاس په اشاره یې هغو ته سلام واچوه. خو محدثین ډېروي، چي: په سنن ترمذي، کي تصریح شوي، چي دغه ښځي په مسجد کي ناستي وي.

علماءِ وایي: که کومه مانع ونه اوسی او فتنه هم نه وي، ښځو ته ګړنی یا شفاهي سلام ورکول روا دی. لکه زړو ښځو ته سلام ورکول. ځکه، چي په یو مسلمان لازمه ده، چي زړو ښځو ته سلام واچوي، همرایي وکړي او د حال پوښتنه یې وکړي.

په صحیح بخاري کي راغلي، چي صحابه رضوان الله علیهم اجمعین به د جمعی لمونځ نه وروسته د زړې ښځي خواته ته، چي دده د لارې په سر وه او سلام به یې ورته اچوه.

دا کار یو شفقت او مهرباني ده له زړو مسلمانانو سره، چي دایي یو ښه امر قبول کړی او په زیاترو نصوصو کي ورته هڅول شوي دي. او ابن قیم هم په زاد المعاد کي دغه نظر تایید کړی دی.

بخاري په «الأدب المفرد» (۱۰۷۳) کي او محقق زاد المعاد (۲/۴۱۹) کي وایي: د دغه حدیث سند کي د زړه کمزورتیا (ضعف) وجود لري.

ترمذي په (۲۶۹۷) او ابوداود په (۵۲۰۴) او ابن ماجه په (۳۷۰۱) او الأدب المفرد په (۱۰۴۷). او آلباني همدا په سنن صحیح ابي داوود او نورو کتابونو کي يي صحيح قبول کړی دی. نګاهالصحیحة (۸۲۳) او جلباب المرأة(۱۹۴-۱۹۶).

دغه ټول د لیلونه د اسلام مقدس دین کي موجود دي، چي ښځه او نارینه یي نامحرم ته د لاس ورکولو څخه منع کړي دي.

خدای تعالی هم د ښځو او هم د نارینوو د هدایت لپاره فرمایلي دي:

«قُلْ لِلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ ذَلِكَ أَزْكَى لَهُمْ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا يَصْنَعُونَ * وَقُل لِّلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ أَوْ آبَائِهِنَّ أَوْ آبَاء بُعُولَتِهِنَّ أَوْ أَبْنَائِهِنَّ أَوْ أَبْنَاء بُعُولَتِهِنَّ أَوْ إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي أَخَوَاتِهِنَّ أَوْ نِسَائِهِنَّ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُنَّ أَوِ التَّابِعِينَ غَيْرِ أُوْلِي الْإِرْبَةِ مِنَ الرِّجَالِ أَوِ الطِّفْلِ الَّذِينَ لَمْ يَظْهَرُوا عَلَى عَوْرَاتِ النِّسَاء» (د نور سوره ۳۱ آیه).

یعنی: مؤمینو نارینوو ته ووایه، چي سترګي دي له ناروا‌وو څخه ټيټي کړي او پاکي دي اختیار کړي، چي دا ورته غوره ده بي له شکه خدای تعالی چي هر څه کوي پو دی.

او ایماندارو ښځو ته ووایه چي خپلي سترګي ناروا‌وو څخه ونیسي او خپلي لمني دي وساتي او خپل ښایست د (بي له هغي اندازي چي ښکاره ده) ښکاره نه کړي او د خپل ټکري څندی دي په خپله سینه هم واچوي (چي سربیره د سر وینتانو او غاړې سینه یي هم پټه اوسي) او خپل ښایست ښکاره نه کړي بی له خپلو خاوندانو، یا پلارونو یا د خاوندانو له پلارونو یا د خپلو ځامنو یا د خاوندانو له ځامنو، یا له ورونو نه یي، یا د ورونو له ځامنو نه، یا د خویندو له ځامنونه یا همدینه ښځو او یا کنیزانو نه یي یا هغه ماشومانونه ، چي د ښځو په غړو خبر ونه اوسي.

نو په دغه صورت کي په مطلق ډول ویلي شو، چي یوي نامحرمي ښځي ته لاس ورکول یا د هغي لمسکول حرام او ګناه ده.

نو اسلامی او شرعی حکم همدا ده، چي د نارینه لاس ورکول نامحرمي ښځي ته په مطلق ډول روا نه ده.

والله اعلم